## ښاروالۍ

هغه مؤسسه ده چې هدف یې د ښاري خدماتو تأمین او وړاندې کول او د ښاریانو د اړتیاوو لېرې کول دي او هغه ځای دی چې له پنځو زرو څخه زیات وګړي پکې میشت وي او د ماستر پلان د تطبیق امکان په هغې ساحه کې موجود وي. دری: [شاروالی]

## ښاري خدمتونه

هغه فعالیتونه دي چې د ښار د اوسېدونکو د عمومي اړتیاوو د لیرې کولو په مقصد د ښاروالۍ له خوا ترسره کېږي. دری: [خدمات شهری]

## ښاري ناحیه

د ښار په محدوده کې شامله ساحه ده چې د ښاري تقسیماتو له مخې ټاکل کېږي. دری: [ناحیه شهری]

## ښکنځل

بل چاته د زشتو او رکیکو کلماتو له نسبت ورکولو څخه عبارت دی پداسې توګه چې د هغې په اثر د شخص اعتبار یا حیثیت عرفاً جریحه دار شي. دری: [دشنام]